# مطبوعاتي اعلامیه

## هغه رژیم چې ښځې د کپیټلېزم په مزدور او غلام مارکېټ کې پلوري

**(ژباړه)**

د سوډان د ښځینه فوټبال لومړی لیګ په خرطوم ښار کې د دوو لوبډلو په لوبې کولو سره پیل شو، چې سلګونو کورنیو او بهرنیو مېنوالو او ډیپلوماټانو له نړیوالو او سیمه ییزو رسنیو څخه ولیدله. لوبه نارینه او ښځینه مېنوالو په خوښیو بدرګه کړه.

د ښځینه وو فوټبال لیګ د ښځینه او نارینه مېنوالو په بدرګې سره پیل شو. د ښځو دغه فوټبال لیګ د انتقالي حکومت په دوره کې پیلېږي او په پایله کې یې عمومي ازادي پیاوړې کېږي، چې د ښځینه وو ازادي او د دوی د حقونو پراخوالی رامنځته کوي. دا ټول به د یوه ډیموکراتیک تقنیني سند له مخې تر سره کېږي.

ښځې په داسې ځایونو کې تمرین کوي چې له الله سبحانه وتعالی څخه له شرم پرته د بدن په برنډولو سره ټول اسلامي قوانین ماتوي؛ په دې توګه هڅه کوي چې فیفا ته ځانونه ژمن وښیي. دا هغه قوانین دي چې پر سیکولرېزم د تګ لپاره په مستقیم ډول حلال حراموي او حرام حلالوي. دغه چاره د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د قوانینو مخه نیسي او له کافرو ښېکلاکګرو سره دوستانه اړیکې رامنځته کوي.

سیکولرېزم مېرمنې د سوداګریزو توکو غوندې کاروي، هغوی په ناوړه ځیزونو بوختوي او ارزښت یې په بشپړه توګه له منځه وړي. په داسې حال کې چې ښځې د یوې ټولنې د ملا تیر ګڼل کېږي.

پر همدې اساس داسې رول لوبوي چې د امت د بچیانو په ذهن کې فرهنګي امنیتي انحصار ځای پر ځای کړي، ترڅو د غربي ښځو موډل غوندې شي او له بېلابېلو ناوړه جریانونو سره مخ شي.

اې انتقالي حکومته! تاسو پر دې ښه پوهېږئ چې نر او ښځه په جوړښت او فطرت کې له یو بل سره توپیر لري؛ په خلقت او شخصیت کې هر ډول اختلال د دواړو په طبیعي رول کې د اختلال لامل کېږي، چې د ټولنې د خرابوالي او پاشل کېدو لامل کېږي. د اسلام له نظره په عمران سورت کې د ښځو په اړه داسې راغلي دي:

**﴿وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالأُنْثَى﴾**

[ال عمران: ٣٦]

***ژباړه:*** *نارينه د ښځو په څېر نه دي.*

نو د غرب د خوشحالولو لپاره ولې هغه قانون او حقيقت په قصدي ډول تر پښو لاندې کوئ؟ په داسې حال کې چې تر تاسو وړاندې کسانو ته هم دغه امتيازونه ورکړل شوي وو، خو هغوی هم ترې ناخوښ وو.

له سپکاوي ډک دغه اقدام مخکې هم پر ټولو رسمي قوانينو سربېره شوی دی. دوی دا هرڅه د ملګرو ملتونو او يونيسف د ډالرو لپاره کوي، چې په حقيقت کې د دوی لپاره هېڅ ګټه نه لري.

موږ د حزب التحرير- ولايه سوډان د مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه؛ د سوډان خلکو ته دا خبره نن واضح کوو، چې دغه چاره به داسې ناوړه اغېزې ولري، چې بيا به د زغم وړ نه وي.

**اې د سوډان خلکو!** خپلې پاکې مېرمنې وساتئ او پر هغوی پام وکړئ. همدارنګه خپل عزت او پت د دغې جدي موضوع له پېښېدو څخه وساتئ. انتقالي حکومت ستاسو پر امنيت تيري ته اجازه ورکوي او اسلامي قوانينو ته هېڅ پام نه کوي. خپل دين او نظام پر يو سيکولر دولت مه پلورئ، چې ځان ته مو غورځوي او د شته ظلمونو پر وړاندې چوپ مه پاتې کېږئ.

په ښوونځيو، پوهنتونونو او نورو ټولنو کې د هغوی د فاسدو نظرونو پر وړاندې مبارزه وکړئ. که دا کار ونه کړئ، نو د الله سبحانه وتعالی له لوی عذاب سره مخ شئ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً﴾**

[انفال:٢٥]

***ژباړه:*** *له فتنې څخه وډار شئ او ډډه ترې وکړئ؛ ځکه فتنه نه يوازې تاسو، بلکې ټول هغه کسان له ګوانښ او زيان سره مخ کوي، چې پر روانو ظلمونو چوپ پاتې شوي دي.*

ترڅو به دغه ډول رژيمونه زغمو، چې د ټولو مسايلو وړاندوينه يې په لاس کې ده؟ تر څو به د داسې ناوړه رژيمونو پر وړاندې چوپ وو، چې سياسي او واقعي ليدلوري ته په ناسم ډول ګوري او داسې مفاهېم رامنځته کوي چې ښځې يې په اساسي واقعيت نه پوهېږي؟

د نبوت پر تګلاره په خلافت نظام کې ښځو ته عزت ورکول کېږي او په غوره توګه يې ساتنه کېږي. اوسني روان رژيمونه ښځه د کپيټلېزم د غلامۍ په مارکېټ کې پلوري. ايا تاسو پر دې پوهېږئ چې څه غوره دي او څه غلط او ناوړه؟! پرېکړه ستاسو په لاس کې ده، هر يو چې ټاکئ.

## د حزب التحرير ـ ولايه سوډان د ښځو د څانګې رسمي وياند

## د صدور ګڼه: ۰۲/۱۴۴۱

## ۱۴۴۱ هـ.ق کال، د صفر ۷مه

## ۲۰۱۹م کال، د اکټوبر ٦مه

## ژباړه: بهير «وياړ»

**فسبوک لپاره:** کپيټلېزم له ښځو څخه په بازار کې د خرڅلاو د توکو په څېر ګټه اخلي.